مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۲/۲۴

# شنه غمي ولا جلکی




نن مې د ګاونډي په تور لاس، د خپل ګران هیواد د مظلومو ش هیدانو، د غم غلطولو هڅه کوله دا خوږ ناول مې را واخیست او په دوه ناستو کې مې ختم کړ.

د لوستلو وخت کې به مې کله اخوا دیخوا وکتل؛ ما ویل څوک مې ډکې سترګې و نه ګوري او کله به مې زړه داسې تازه شو چې له سترګو به مې لپه لپه سرور څڅېده.

پر ناول له جزیاتو ډک لیک ښه نه وي؛ ځکه د لوستونکي تلوسه کموي. لکه چاته چې د کوم فلم کیسه وکړې او چې کله یې بیا هغه ګوري؛ نو هره غوټه ور ته پرانیستې وي او د تلوسې خوند ترې کډه کړې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځکه یې له جزیاتو تېرېږم.

ناول غیر مستقیم د ښځو د تعلیم پر ارزښت غږېږي او راته وایي چې زموږ غوندې محروم او وروسته پاتې وطن ورته لکه آب حیات اړتیا لري.

ناول مو پوهوي چې په کلیو او بانډو کې د ښځینه ډاکټرانو نشتون، څنګه د میندو آرمانونه خاورې کوي او څنګه په پټه خوله شدید دردونه ګالي.

ناول راته د طبعیت پر وړاندې د انسان سخت زړې ښيي، د ځنګلونو د وهلو د زیانونو کیسې راته کوي.
او ناول راته د وطن د ابادۍ خواږه درسونه راکوي.

دغه راز، ناول راته د سوچه کلیوالي میني منظر کشي کوي.

دا ناول ولولئ، د ادبي ذوق د خړوبولو ترڅنګ ترې فکر پارونکي پیغامونه هم واخلئ او د هغو ارمانونو ننداره وکړئ، چې زموږ محروم ولس یې په سینو کې لري.

د ښاغلي پیر محمد د خیال او فکر (کاروان) دې همداسې په شرنګا روان وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ